# د افغانستان سوېل ختيځ ځنګل لرونکي ولايتونه؛ خوست پکتيا او پکتيکا

دهقان (بزګر) اوونيزه / نورالله پتمن

په هېواد کې د ځنګلونو پراخوالې د خدای پاک له لويو نعمتونو څخه شمېرل کيږي، چې د هسکو غرونو ښکلا د همدې ځنګلونو مننديوی ده. که ځنګلونه نه واي چاپيريال به بدرنګه او وران ښکاريده، په وچو دښتو اوبيابانو هيڅ درد نه دواه کيږي. داچې له يوه پلوه زرغونې سيمې او شنه بڼونه چاپيريال ښايسته کوي، له بله پلوه د انسان د ښه ژوند تظمين هم کوي.

هغه څه، چې د چاپيريال د ککړتيا په راکمولو او له منځه وړلو کي مرسته کوي يوازې زرغونې سيمې، بڼونه او ځنګلونه دي له بده مرغه تر کومه چي انسان په ساينسي تکنالوژی او نورو علومو کي وړاندي تګ کړی او خپل ژوند کي يې بدلون راوستی د خپل تمدن د اړتياو د پوره کولو لپاره يې د ځنګلونو په بي رحمانه ډول د پرېکولو څخه هم ډده نه ده کړې، چي تر ټولو ناوړه پايله يې د ککړ چاپيريال رامنځ ته کول دي.

ځنګلونه له يوه پلوه چاپيريال پاک ساتي، د سېلابونو مخه نيسي او د وحشي ژوو کورونه په خپله غيږ کي لري او د بل پلوه د طبي بوټو په وده او نمو کي مهم رول لوبوي اوهم زموږ لپاره پاکه او تازه هوا برابروي.

همدا راز ځنګلونه د ژوند ارزښت لرونکي اړتياوې هم برابره وي، چې په ګڼو برخو لکه د سون لرګيو، ودانيزو چارو، د مېوو او نورو فرعي محصولاتو په توګه ترې کار اخېستل کيږي، چې دا ټول د انسانانو او وحشي حيواناتو د ژوند کولو لپاره خورا اړين دي.

ځنګلونه د وخت په تېريدو سره خپل ارزښت زياتوي او ورځ تر بلې پراختيا مومي که څه هم له ځنګلونو څخه د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره ډېره ګټه اخېستل کيږي نو په څنګ کې يې د ډېرښت لپاره له داسې لارو چارو څخه کار اخېستل کيږي چې په کم وخت کې يې د احيا لپاره زيات شرايط برابريږي چې دا خورا ټولنيز او اقتصادي ازښت هم لري.

د افغانستان ډېر ولايتونو خوست، پکتيا، پکتيکا، کونړ، نورستان، ننګرهار، لغمان، سمنګان او نور ګڼ شمير ځنګلونه او غرنيزې سيمې لري، چې هر ولايت او سيمه يې خپلې ارزښتناکې مېوې لکه جلغوزي، چهارمغز، بادام او نور طبي بوټي او پيداور لري، چې د هېواد د خلکو په ورځيني ژوند يې ښه اغېزه کړې ده.

د پورتنيو يادو ولايتونو له ډلېخوست، پکتيا او پکتيکا د افغانستان په سوېل ختيځ کې پراته غرني ولايتونه دي، چې د هېواد نورو ولايتونو ته په کتو ډېر طبيعي ځنګلونه، مشهورې مېوې، طبي بوټي او سابه لري. ياد ولايتونه د چهارمغزو او جلغوزيو له پلوه هم په ځان بسيا دي، چې هر کال ترې په زرګونه مټريک ټنه جلغوزي، غوزان، بادام او نورې ګڼې مېوې د خلکو په همکارۍ د بېلابېلو ولسواليو څخه راټولې او د پېر او پلور لپاره بازارونو ته وړاندې کيږي.

خوست د هغو ولايتونو په ډله کې ده، چې د بېلابېلو کرنيزو توکو د کرکېلي لپاره مناسبه هوا لري په دې ولايت کې ګڼې مېوې او نور ډول ډول کرنيز توکي کرل کيږي، چې هر يو يې ښه پايله ورکوي.

د خوست د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست د چارواکو په وينا په خوست ولايت کې شاوخوا ۱۱۸زره او ۲۲۰ هکټاره ځنګلونهشتون لري، چې په کې جلغوزې، چهارمغز، نښتر، څېړۍ زيتون او ګڼې نورې مېوه لرونکي او بې مېوې ځنګلونه شامل دي.

د يادو ځنګلونو د بيا رغونې او پراختيا په برخه کې په خوست ولايت کې د ۳۶۰ کورنيو قوريو پروژه هم په لاره اچول شوي ده، چې له دې لارې به راتلونکي کال شاوخوا دوه ميليونه او ۱۶۰زره نيالګي چمتو او پنځه زره هکټاره ځنګلونه به ورباندې بيا ورغول شي. د ځنګلونو دبيارغونې ترڅنګ، کارموندنه او د ځنګل لرونکو اقتصادي ودې ته زمينه برابرول ديادو قوريو نورې ګټې دي.

د خوست تر څنګ پکتيا هم هغه ولايت دی، چې ګڼو ځنګولونو، څړځايونو او غرنيزې شنې سيمي يې، په ښکلا کې خورا ښه بدلون راوستی دی، چې په دې ورستيو کالونو کې ورته ډېره پاملرنه هم شوې ده.

د پکتيا ولايت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست د مالومات له مخې پکتيا ۱۰۷ زره ۲۲۰ هکټاره ځنګلونهلري، چې د پکتيا ۲۰ سلنه جوړوي. د دغو ځنګلونو ډېره برخه يې جلغوزي، څېړۍ، اوبښتې، ښون او غوزان دي.

د پکتيا د کرنې رياست په وينا د ځنګلونو د پراختيا، بيا رغونې او ساتنې لپاره د دغه ولايت په اوو ولسواليو شواک، احمدابا، سيد کرم، ګرده څېړۍ، څمکنيو، ځاځي اريوب او جاني خېلو کې د جلغوزيو او چهارمغزو ۴۲۵ کورني قوريې هم په کروندګرو او خلکو وېشلي، چې له وخت سره سم به يې سميې ته ولېږدوي، دوی د جوړو شويو قوريو پايله ښه بولي او هيله ښيي چې له دې لارې به په سيمه کې پاتې سيمې هم زرغونې شي.

احمدابا، سید کرم او ډنډ پټان هغه ولسوالۍ دی چې د ځنګولونو د بیارغونې لپاره پکې ۷۰ زره د غوزانو نیالګي هم ابښودل شوي دي، چې دا لړۍ به په راتلونکي کې نورو ولسوالیو ته هم وغځوي.

د خوست او پکتیا ولایتونو ته څېرمه پکتیکا هم هغه ولایت دی، چې د ځنګلونو پراخوالې یې شاوخوا ۳۵۴ زره او ۴۰ هکټارو ته راسیږي، چې د ټول ولایت څه باندې ۱۵ سلنه جوړه وي، چې ډېری ځنګولونه یې پلن پاڼي او ستن پاڼي دي لکه جلغوزي، لمنځ، نښتر، سرپ، څېړۍ او چهارمغز.

د پکتیکا د کرنې ریاست په وینا یاد ریاست په دې ولایت کې د ځنګلونو د پراختیا، بیارغونې او خوندیتوب په پار هلې ځلې کړي، چې د دې ولایت په پنځو ولسوالیو کې ۳۵۶ کورنې قوریې جوړې شوي دي، چې تر ۶۰۰ پورې نیالګي پکې تر روزنې لاندې دي، چې له وخت سره سم به یې سمیې ته ولېږدوي، دوی د جوړو شویو قوریو پایله ښه بولي او هیله ښیي چې له دې لارې به له ځنګلونو څخه پاتې سیمې هم زرغونې شي.

همدا راز په خوست، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د ځنګولونو د قانون په اساس د لومړي ځل لپار د ځنګلونو د ساتنې، پراختا، بیارغونې او د ښې ګټې د تر لاسه کولو لپاره ګڼو مدیریتي ټولنو ته په بېلابېلو ولسوالیو کې د مدیریتي پلان له مخې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له خوا په رسمي توګه د کاري فعالیت جوازلیکونه هم ورکړل شوي؛ چې د شوي تړون او ټولنو له مخې به ولسونه په دغه ولایتونو کې ځنګلونو او د ورکړل شویو کورنیو قوریو د روزنې او څارنې دنده په غاړه لري.

د کرنې، اوبولګولو اومالداري وزارت د ځنګلونو د بیارغونې، پراختیا او ساتنې لپاره هڅې پیل کړي دي، چې په دې وروستیو کې د خوست او پکتیا ولایتونو د ځنګلونو د ساتنې او پراختیا په پار یو لړ قومي تړونونه هم لاسلیک شوي دي، چې په دې سره به د قومي مشرانو او ولسونو په همکارۍ به د ځنګلونو د بیارغونې او پراختیا چارې ترسره او د ځنګلونو د پرېکېدو مخه نیول کیږي.